PROPERTY OF ACKU

دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت
اوونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

درس قرآن

او زمونږ په پیدایښت کې داسې امت هم شته چې د حق په لور ښوونه کوي او تل د حق په تله پرېکړې کوي او کومو کسانو چې زمونږ آیتونه درواغ گڼلي مونږ به يې پورې، په پورې، داسې ونیسو چې هغوی به پوه هم نه شي. اوس هغوی ته وخت ورکوم. زما تدبیر خورا پیاوړی دی.
(سورة اعراف : ۱۸۱ - ۱۸۳)

درس حدیث

از ابو ذر و معاذ بن جبل رضی الله عنهما روایت است که:
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود، از خدا بترس هر کجایی که بودی و در مقابل بدی نیکی کن تا آنر محو نماید، و با مردم به شیوهء نیکو و اخلاق حسنه رفتار کن. (ریاض الصالحین)

شهادت ځلورم کال، ۱۳ مه گڼه، پرله پسې ۱۲۴ مه گڼه چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د چنگاښ ۱۴ مه د۱۴۳۳ هـ ق د شعبان المعظم ۱۴ مه د۲۰۱۲ م د جولای ۴ مه

پیام تبریکیهء عبدالهادی ارغندیوال رئیس حزب اسلامی افغانستان عنوانی جلالتمآب محمد مرسی بمناسبت انتخاب شان بحیث اولین رئیس جمهور منتخب جمهوری عربی مصر

برادر بزرگ فرزند صدیق مصر جلالتمآب محمد مرسی رئیس جمهور منتخب جمهوری عربی مصر!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته !

انتخاب جلالتمآب شما را که بزرگترین قدم در راه پیروزی انقلاب ۲۵ جنوری ملت بزرگ مصر شناخته می شود به آن برادر، ملت قهرمان مصر، همه جانبازان قیام عظیم مصر، قربانیانی که در راه پایان دادن به نظام استکباری مصر جانهای عزیز شانرا باخته اند مبارک باد و تهنیت می گوئیم.

حزب اسلامی افغانستان در حالیکه مبارزات صبورانه حزب پیشتاز اخوان المسلمین را که در طی بیشتر از هشتاد سال به ملت بزرگ مصر راه بیداری، جهاد و مبارزه را آموخت به نظر قدر می نگرد. جای آن دارد که گفته شود مصداق ((إِنَّهُمْ فِتْيَةٌ آمَنُوا بِرَبِّهِمْ وَزِدْنَاهُمْ هُدًى)) در عصر ما اند، به اعتماد ملت عظیم مصر نسبت به این حزب پُر افتخار ارج می گذارد.

انتظار داریم دولت جمهوری انقلابی مصر با استفاده از تجربه هشتاد ساله مبارزه بی امان و خستگی ناپذیر، نمونه ای از اسلام عزیز را تقدیم جامعه مصر، عالم اسلام و جامعه جهانی بنماید که به باور آنها به آنکه اسلام گهواره اصلی امن و سلام در این سیاره است بیفزاید.

جای آنست که جامعه جهانی به اخوان المسلمین منحیث بنیان گذاران تمدن معاصر اسلام فرصت آنرا فراهم نمایند وجیبه خود را در راه نهادینه نمودن تمدن و ثقافت اصیل اسلام تطبیقی و پایه گذاری عدالت اجتماعی در جامعه مصر و عالم اسلام و تأسیس روابط بین المللی با حفظ احترام متقابل وصلح عادلانه دراین سیاره ایفا نمایند.

با احترام
عبدالهادی ارغندیوال
رئیس حزب اسلامی افغانستان

پیام تسلیت بمناسبت درگذشت شاعر توانا، مرشد عارفان پاک باز و مجاهد بزرگ استاد گل آغا بیرنگ

با تأسف فراوان اطلاع حاصل نمودیم که: یکی از دعوت گران و سپاهیان مخلص نهضت اسلامی افغانستان، ادیب، شاعر چیره دست و صوفی متشرع به رفیق اعلی پیوست. دوستان، مریدان وهمرزمان راستین راه هجرت وجهاد مقدس را در آتش فراق سوخت.

(انا لله وانا الیه راجعون)

حزب اسلامی افغانستان مراتب تألم و همدردی عمیق خود را نسبت رحلت این مرد بزرگ قله ادب به خانوادهٔ مرحومی، اقارب، مخلصین، اعضای نهضت اسلامی و کافه عاشقان و مشتاقان ادب و تصوف ابراز نموده و خود را در غم و اندوه شان شریک میداند. و از بارگاه الهی برای بازماندگانشان صبر جمیل و برای مرحومی طلب مغفرت درجات عالیهء جنت فردوس را مینماید و فقدان شانرا ضایعه بزرگ برای ملت غیور و مجاهد خود میداند.

د افغانستان د ځوانانو د سولې جرگه کې د حزب اسلامي ستره کامیابي

رپوټ: عبدالله کامه وال

درواني میاشتې په دولسمه د دوشنبې په ورځ په پلازمینې کابل کې دافغانستان ځوانانو د سولې درې ورځنۍ جرگه پیل شوه

دادرې ورځنۍ جرگه چې دلوی جرگې په خیمه کې نن هم دوام لري دهیواد له گوټ گوټ نه ۱۷۰۰ ځوانانو پکې گډون کړی.

جرگه دسولې دعالي شورا د مشر صلاح الدین رباني په وینا پرانیستل شوه په یاده غونډه کې دنورو دولتي اوسیاسي شخصیتو سربیره داپزیسون مشر او د باندینیو چارو پخواني وزیر عبدالله عبدالله هم برخه اخیستې وه داکتر عبدالله غوښتل چې ځوانانو ته وینا وکړي خو په خیمه کې ناستو یو زیات شمیر ځوانانو د داکتر عبدالله دوینا سره کلک مخالفت وښود، ځوانان دستیج سرته راپورته

پاتې ۴ مخ

نگرانی ها در مورد استخراج معادن افغانستان

کابل، رسانه ها:

در حالی که حکومت افغانستان تلاش ها را به هدف استخراج معادن کشور آغاز کرده است اما افزایش تهدیدات امنیتی بر سر راه کار این پروژه ها نگرانی حکومت و مردم را براز‌گیخته است. مقام های وزارت معادن افغانستان می گوید که در این اواخر نا امنی ها در ساحه مس عینک ولایت لوگر افزایش یافته است.

جواد عمر سخنگوی این وزارت به روز سه شنبه در صحبت با رادیو آزادی گفت، برخی از کشورهای منطقه تلاش می کنند تا مانع کار استخراج معادن افغانستان گردند. آقای عمر می گوید که اگر این تهدید ها

بقیه در صفحه ۴

کتونکي:

افغان حکومت په ایران کې د افغان کډوالو په ستونزو چوپ پاتې

کابل، رسنۍ:

یو شمېر کتوونکي په داسې حال کې په ایران کې د افغان کډوالو د ستونزو له امله د افغانستان په اړوندو ارگانونو انتقادونه کوي، چې د ایران په فارس ولایت کې پر افغان کډوالو بې ساري بندیزونه لگول شوي دي. ویل کیږي، په فارس ایالت کې پر هغو افغان کډوالو چې قانوني اسناد نه لري، د خوراکي موادو او د خدماتو په وړاندې کولو بندیزونه لگولي.

د سیاسي چارو یو تن کارپوه حاجي داود وايي، په تیرو لسو کلونو کې افغان حکومت د کډوالو د دارنگه ستونزو په اړه د ایران د

پاتې ۴ مخ

په مصر کې د اخوان المسلمین بریالیتوب هیلې او اندېښنې

سید فضل مولا لټون

د مصر د جمهوري ریاست په آزادو ټاکنیزو سیالیو کې د اخوان المسلمین د گوند کاندید محمد مرسي ۵۲.۷٪ سلنه رأیې په ترلاسه کولو د جمهوري ریاست مقام وگاټه. ښاغلي محمد مرسي تر بریالیتوب وروسته پخپله لومړۍ وینا کې اعلان وکړ چې د مصر د ټولو خلکو جمهور رئیس دی او په دې لړ کې یې د آزادو ټاکنو د ترسره کولو له امله د مصر د قضایې محکمې او امنیتي ځواکونو څخه مننه وکړه او د انقلاب د شهیدانو ارواو ته یې دعا وکړه، له ټولو مصریانو یې وغوښتل چې د خپل ملي وحدت په وسیله مصر له دغو سختو حالاتو څخه وباسي.

ښاغلي مرسي د خپلو خبرو په جریان کې وویل: د نړۍ له ټولو هېوادونو سره بین المللي تړونونه په رسمیت پېژني او ملاتړ یې کوي، نوموړي وویل: زمونږ پیغام نړۍ ته د سولې پیغام دی، د مصر او نړۍ د هېوادونو ترمنځ د شویو تړونونو ملاتړ او ساتنه کوي. ...

پاتې دریم مخ

د امریکا دفاع وزارت غواړي چې افغانستان ته نورې څارگرې الوتکې ولېږي

کابل، رسنۍ:

د امریکا دفاع وزارت یا پینټاگون په افغانستان کې د عملیاتو د پراختیا په لړ کې له کانگریس څخه غوښتي چې په دې هیواد کې د څارونکو او کشافو بې پیلوټه الوتکو لپاره ۶۴۱ ملیون ډالره بودجه تصویب کړي.

دا غوښتنه پرون وروسته له دې وشوه چې د پوځ د استخباراتو بودجه د جون ۲۹مه د کانگریس دفاعي کمېټې تصویب کړه. له دې نوې غوښتنې سره به د پوځي استخباراتو بودجه اته ملیارده او دوه سوه ملیون ډالرو ته ورسېږي.

څلور نوي (۹۴) ملیونه او دوه سوه زره ډالره د سکن ایگل (ScanEagle) بې پیلوټه الوتکو لپاره غوښتل شوي. دا الوتکې په شیکاگو کې

پاتې ۴ مخ

سرمقاله

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

السنه خارجی در رشته های طب و انجنیری؟!

چو جامه سخن بی کم و کاست کن
و یا جـــامه را یا ســخن راست کن

در هفته گذشته در حالیکه فراخوان بزرگ ملی برای تجدید نظر در رابطه با نظام تعلیمی در کشور و کاریابی برای جوانان از طرف وزارت های تحصیلات عالی، معارف، کار و امور اجتماعی دایر گردید، در آغاز آن جلالتمآب رئیس جمهور بدون توجه به عدم توازن معارف در کشور و عمق فساد در پیکره نظام شان توصیه فرمودند که از همه مکاتب از اول تا پنجم نمره به پوهنتون پذیرفته شود و کانکوری برای آنها در کار نباشد، اخبار و نشرات را به تبصره دعوت کرد.

عدهٔ نهادی از مردم این توصیه را راهی برای دست یابی رزق وسیع حلال؟ ! در سراسر معارف خواندند. و هر یک تبصره خودش را بر آن داشت اما نقاط عمده ایکه در رابطه با فیصله های این فراخوان ملی به نظر می خورد.

تغییرات در نظام تعلیمی که با آمدن نظام آقای کرزی در ظرف ده و نیم سال باینطرف جلالتمآبان هر یک پروفیسر رسول امین، محمد یونس قانونی، آقای احمد مشاهد، آقای حنیف اتمر و بالآخره داکتر فاروق وردک ملیاردها دالر از کمک های خارجی و بودجه این کشور را در راه تهیه و تغییر ارتقای نصاب تعلیمی و نظام تعلیمی و تغییر و تبدیل در چاپ ملیونها جلد کتاب بمصرف رسانیده اند، و عدهٔ از شخصیت ها، فلاسفه و دانشمندان از چپ و راست از معاشات و امتیازات فوق العاده آن بهره برده اند. اکنون پس از ده و نیم سال با به سروی گرائیدن تمویل گران بین المللی دست ما به کجا دراز خواهد شد و از کجا می توان اطمینان کرد که سال بعدی جلالتمآبان دیگر بار دیگر آنرا قابل تجدید نظر نخوانند. در ذهن هر افغان خطور می کند که کاش ده و نیم سال که ما در محراق توجه جهانیان بوده ایم نظام ما تخته مشق کودکان نمی بود.

و هر جلالتمآبی و عالیجاهی افرادی بی سواد و کم سواد را بخاطر پرداخت معاش گزاف دالری بنام دانشمند، کارشناس و متخصص در اموری موظف نمی کرد که نتیجه کار آن ضیاع اموال دولت و کمک های خارجی نمی بود.

در رابطه با تشکیل اداره مستقل کانکور صاحبنظران به این عقیده اند که باوجود کمی ها و کوتاهی ها از رأس تا قاعده در وزارت تحصیلات عالی باز هم مناسب ترین مرجع می تواند برای تنظیم بهتر امتحان کانکور شمولیت پوهنتون ها باشد. دولت افغانستان تجربه ناکام الحاق پوهنځی های طب را به وزارت صحت عامه پشت سر گذاشته است و ناکامی ادارات مستقلی که همین اکنون در چوکات دولت مصروف کار اند شاهد این مدعا است که با ضیاع صدها ملیون دالر کار مؤثری از آنها ساخته نیست.

اداره مستقل کانکور را هم (قس علی هذا) می شمارند. اگر از جمله دوستان آقای رئیس جمهور، پسران، برادرزادگان، دامادان و یا شرکای کار شان در غرب به یک ریاست اداره مستقل ضرورت داشته باشد جائی به نظر و تبصره باقی نمی ماند در بخشی از این فیصله ها آمده است که باید دروس پوهنځی های طب و انجنیری به زبانهای خارجی باشد.

کشور ما و جامعه بین المللی گواه آنند که باوجود انکشاف کمی معارف، از نظریه سویه تعلیمی در سراسر وطن ما توازن کیفی وجود نداشته، آنچه می تواند برای یک شاگرد در شهر کابل، هرات، مزار شریف مسیر باشد برای کودک و جوانی که در مرغاب، قادس، سرروضه، گندمک، ناړی، داګام، کامدیش و ... مسیر نیست. برای آنهائی که فارغ این لیسه ها باشند رسیدگی به درس در همچو رشته ها به سالهای دیگر کوشش و تلاش ضرورت دارد که بتواند درس را به زبان مادری خودش، پشتو و دری نه، به زبانهای انگلیسی، فرانسوی، آلمانی فرا گیرد.

همین حالا که مکاتب شهرهای بزرگ ما هم توفیق چندانی در فراگیری لسان های خارجی را ندارند، شاگرد می توان از طریق کورس های لسان خارجی از برنامه عادی معارف به آن دست یابد. آغاز درس به لسان خارجی که از آن شاگرد بجای مفاهیم فقط اکت و ادا را فراگیرد چه نتیجه مثبتی خواهد داشت.

در بعضی از مکاتب خصوصی که اکثراً شاگردان از کشورهای همسایه و یا سایر نقاط جهان آمده اند و بخاطر داشتن سوابق تعلیمی از آنجاها از نظام اکسفورد استقبال می کنند و با وجود مشکلات اقتصادی والدین دوام درس را در همین مکاتب ترجیح می دهند و فیس گزاف می پردازند.

وزارت معارف که مرغ مسؤولین بخش یک لنگ دارد باز هم بر این مکاتب تحمیل می نمایند که بدون رعایت حالت شاگرد کتاب های معارف را تطبیق نمایند.

در حالیکه محتوی جامع و تجربه شده جهانی نظام آکسفورد به مراتب به سویه بلندتر نسبت کتب معارف تدوین شده و این تکرار می تواند فقط تکرار قبیح و تحمیلی بر این مکاتب باشد.

لازمست وزارت تحصیلات عالی و معارف با داشتن این برنامه بر تغییر و اصلاح تدریس السنه خارجی در مکاتب معارف توجه مسؤولانه بنماید و در مکاتب خصوصی که نظام آکسفورد مورد تطبیق آنهاست با یک ارزیابی همه جانبه نصاب معارف را از خلال آن جستجو و شاگردان را به آموختن السنه خارجی تشویق بیشتر نماید و صرف همان مضامینی به السنه ملی تدریس گردد که در نظام آکسفورد جاندارد و ضرورت اسلامی و ملی به آن احساس گردد.

در غیر آن اختیار السنه خارجی برای رشته های طب و انجنیری جز آنکه در این رشته ها را خالی از محتوی، بی توازن و ناکام سازد نتیجه ای ندارد و چنان هم نیست که مراجع مطالعوی و سهولت ترجمه در السنهٔ ملی ما ناممکن و محال باشد و شاگرد از دسترسی به مراجع محروم ماند.

افغانستان او پاکستان د یو دښمن په چنګل کې

محمد خلیل

افغانستان او پاکستان نه یواځې دا چې نږدې ګاونډي هېوادونه دي بلکې پخپلو کې دیني، فرهنګي، قومي او ژبني مشارکت په مزي کې هم پیلل شوي دي، په ځانګړي ډول د دوارو ولسونو ترمنځ د ورورۍ اړیکې هغه مهال ډېرې خوږې او پیاوړې شوې چې د روسي یرغل پر مهال څلور ملیونه افغانان خپل ګاونډي هېواد پاکستان ته مهاجر شول او د پاکستان په ببلا ببلو ښارونو او سیمو کې د ورونو په څېر یې ژوند تېر کړ، داسې مهاجر نشته چې په پاکستان کې زړه ته نږدې خوږ دوست ونه لري او داسې پاکستاني نشته چې له مهاجر سره د دوستي او انډیوالي اړیکې ونه لري. دوی خپل غم او ښادي په شریکه تېر کړې او د یو بل په درد او غم کې شریک شوي دي. څه باندې دریو لسیزو په اوږدو کې چې د پاکستاني او افغاني ولسونو ترمنځ د ورورۍ او راشه درشه کومې تودې او مینې ډکې اړیکې تر سترګو کېږي د نورو هېوادو په ګاونډیانو کې ددې مثال نه تر سترګو کېږي. نو ځکه د دوارو هېوادو وګړي هرګز دا نه شي زغملی چې پخپلو کې د یو بل په خلاف د دښمنۍ په پولو کیني او له یو بل نه جلا شي.

د دوارو هېوادو د ولسونو ترمنځ د ورورۍ او دوستۍ اړیکې دومره مزبوتې او خوږې دي چې کله کوم غم او ښادي راپېښېږي نو افغان د خپل پاکستاني ورور په غم کې د شریکېدو له پاره پاکستان ته ورځي او پاکستاني د غمرازۍ او فاتحه خواني لپاره افغانستان ته راځي، د دوارو هېوادو د ولسونو مطلق اکثریت دېته لیواله دي چې پخپلو کې له یو بل نه هرګز جلا نه شي او خپلې دوستانه اړیکې تل لپاره وپالي، دا چې د دوارو هېوادو د حکومتونو ترمنځ کوم تاوتریخوالی لیدل کېږي او پر یو بل د باور فضأ خړه پړه شوې ده د دوارو هېوادو ولسونه یې اندېښمن کړي دي چې ښکاره ثبوت یې د کویټې په ښار کې د محمودخان اڅکزۍ په مشرۍ د کویټې اوسېدونکو هغه لویه مظاهره وه چې خپلو چارواکو په خلاف یې ویستلې وه او غوښتنه یې ترې کوله چې د افغانستان په اړه له خپلې تاوتریخوالي له پالیسۍ لاس واخلي او سالمه پالیسي خپل کړي.

په دې کې هېڅ شک نشته چې په طبعي ډول پاکستان او افغانستان د جغرافیا په نقشه کې پراته داسې دوه نژدې ګاونډي هېوادونه دي چې ګټه او تاوان یې له یو بل سره تړل شوی، داسې هرګز نه شي کېدلې چې د یو بل استحکام او ناامني پخپلو کې پر یو بل اغیز ونه کړي. که د افغانستان ثبات، استحکام او استقلال متضرر کېږي نو پاکستان ددې له منفي اغیزه نشي مامون پاتې کېدلي همداراز که د پاکستان ثبات او استحکام له خطر سره مخ کېږي نو افغانیستان ترېنه هم مصؤن نشي پاتې کېدلې.

تاریخ ګواه ده چې کله روسانو پر افغانستان پوځي یرغل وکړ او د افغانستان استحکام متضرر شو نو پاکستان هم ددې تر مستقیم اغیز لاندې راغی او ډېرې تودې څړې یې ولیدلې، نو ځکه د ځمکنیو واقعیتونو په نظر کې نیولو سره ددې خبرې ضرورت دی چې د دوارو هېوادو حکومتونه دهغه څه له کولو نه په کلکه ډډه وکړي چې د دوارو هېوادو استقلال او استحکام له ګواښ سره مخ کوي.

موږ په پوره یقین او قاطعیت سره ویلې شوو چې که چېرته د دوارو هېوادو حکومتي چارواکو په افغانستان کې د روسي ګوډاګي حکومت له نسکورېدو وروسته پخپلو کې د دښمنۍ او بې باورۍ پر ځای د ورورۍ او باور فضأ په رامنځته کولو سره د یو بل ملاتړ او مرستې ته لاسونه غځولي وای نو نه یواځې دا چې دوارو هېوادونو به د ژوند په ګڼو ډګرونو کې* په زړه پورې پرمختګ کړې و بلکې په دې سیمه کې د یو غښتلي اقتصادي او پوځي خواک بڼه به یې هم خپله کړې وه.

که څه هم د جغرافیا په نقشه کې پاکستان او افغانستان دوه جلا او مستقل هېوادونه دي مګر په حقیقت کې ددوی ګټې او تاوان پخپلو کې سره دومره له یو بل سره نښتي دي چې دواړه هېوادونه پخپلو کې د روغې جوړې او ورورۍ په فضأ کې له ژوند تېرولو پرته بله چاره نه لري، د افغانستان استحکام د پاکستان له استحکام سره، او د پاکستان استحکام د افغانستان له استحکام سره غوټه ده چې تازه ثبوت یې افغانستان ته د امریکا او ناټو غړو هېوادو د پوځونو له راتلو نه وروسته په دوارو هېوادو کې د نا امنیو زیاتېدل دی، نه یواځې د افغانستان امنیت خراب شوې بلکې ورسره جوخت د پاکستان امنیت هم تالا ترغه شوې کومه څېړه چې د افغانانو پرمخ لګېږي د پاکستاني ولس پر مخونو هم لګېږي، که دلته د سړک تر غاړې بمونو او ځان مرګي بریدونو له کبله افغانان مري، ښوونځي، کلینیکونه او نورې ادارې په بمونو الوځول کېږي نو هلته هم دغه لړۍ روانه ده او دا ټول د افغانستان او پاکستاني چارواکو ترمنځ د بې اتفاقۍ او بې باورۍ له کبله منځ* ته راغلي دي، که چېرته د دوارو هېوادو د ولسونو په څېر حکومتي چارواکو هم د ورورۍ او اعتماد لاره خپله کړې وای نو په دوارو هېوادو کې به نه وسله والې ډلې تپلې پیدا کېدلې او نه به هم افغانستان د امریکا او ناټو ځواکونو پوځي اډه ګرځېدلې وه، نه به دلته د ډرون په بریدونو کې بې ګناه افغانان وژل کېدل او نه به هلته بې ګناه پاکستاني ورونه، نه به د افغانستان دښمنانو په افغانستان کې د پښو اینښودلو فرصت ترلاسه کړی و او نه به هم د پاکستان دښمنان د افغانستان او پاکستان ترمنځ د بې باورۍ فضأ په رامنځته کولو بریالي شوي وو.

د عقل او منطق غوښتنه دا نه ده چې د دوارو هېوادو چارواکی پخپلو مخکنیو غلطیو او تېروتنو کلک ودرېږي او د غلطیو له پاسه نورو غلطیو ته ادامه ورکړي بلکې د عقل او پوهې خبره داده چې دوارو هېوادو چارواکي او سیاسي شخصیتونه د غمونو او دردونو له دغه خونړۍ ډنډ نه د وتلو لپاره له یو بل سره په جرګه شي او په صمیمانه فضاء کې سلا مشورې وکړي، دهغه پټ دښمن د توطیو د شنډولو لپاره ګډه پالسي جوړه کړي چې د دوارو هېوادو ترمنځ د دښمنۍ تخم شیندي.

دلته او هلته په سرحدونو کې د دوارو هېوادو په خلاف جنګیالي روزي، وسلې ورکوي او جګړو ته یې سوقوي، دهغوی اعظمي کوښښ دا دی چې د خپلو تخریبکارانه کړنو له لارې د دوارو هېوادو حکومتونو او ولسونو ترمنځ د بې باورۍ فضا په رامنځته کولو سره دواړه له یو بل نه لېرې او خپل شوم اهداف پرمخ بوځي.

که واقعاً همداسې نه وي نو بیا هغه کوم لاسونه کېدلې شي چې هم په افغانستان کې تخریبي کړنې ترسره کوي او هم په پاکستان کې، هلته هم پر پوځ، پولیس، ښوونځي او لوړ پوړیو چارواکو حملې کوي او دلته هم، په دوارو هېوادو کې یو ډول تاکتیک او یو ډول وسله استعمالېږي، حالات او واقعات په دې ګواهي ورکوي چې دلته او هلته خامخا دریم لاس په ډېره مرموزه توګه فعالیت کوي او د دوارو هېوادو ترمنځ د دښمنۍ فضا په پیدا کولو سره خپل شوم غرض ته رسیدل غواړي، د دوارو هېوادو پټ دښمن ډېر عیار او مکار دی ددې له شیطاني چال نه د وتلو لپاره پکار دي چې د دوارو هېوادو چارواکي پخپلو کې سره راغونډ او ددغې پټې توطیې د خنثی کولو لپاره جدي ګامونه پورته کړي، د دښمن له خوا غځول شوي ټولې لومې پرې او ارمانونه یې له خاورې سره خاورې کړي.

که د دوارو هېوادو چارواکي د پخوا په څېر د غفلت له خوبه بیدار نه شي او د روانو حالاتو حساسیت او دروندوالې محسوس نه کړي نو لېرې نه ده چې په ډېر لږ وخت کې به له داسې نه جبران کېدونکی تاوان سره لاس او ګریوان شي چې له ندامت او لاسونو مروړلو څخه پرته به بل هېڅ نه شي کولې.

ښه به دا وي چې د دوارو هېوادو مشران پخپلو کې* د یو بل ګریوانو ته د لاس اچولو پر ځای یو بل ته د ورورۍ لاسونه ورکړي او په ګډه دهغو دښمنانو د توطیو د شنډولو لپاره لاسونه یو کړي چې دلته او هلته د مړګونو او وژنو بازار ګرم کړې او د دوارو هېوادونو د تباه کولو ارمانونه په زړه کې لري.

په نائیجریا کې د عیسویانو له لاسه د سلګونو مسلمانانو په اور کې وریت کېدل او د انساني حقوقو د علمبردارانو چوپتیا

عبيد الله صافي

د دوشنبې په ماسپښين مې د انټرنټ په صفحه کې سلګونه داسې سوځېدلي جسدونه وکتل چې په اور کې د وريت کړيو شويو چرګانو په څېر په يو ميدان کې پراته وو، ددغو تصويرونو په ليدو زړه مې ډېر بد او غوني مې زيګ ودرېدل. دغه سوځول شوي جسدونه د نائيجريايي مسلمانانو وو چې دهغه ځای افراطي عيسويانو سوځولي وو. ويل کېږي چې ددې تر شاه لوی لاس دهغو استعماري طاقتونو دی چې غواړي په نائيجريا کې د مسلمانانو او عيسويانو ترمنځ د جنګ جګړې په تودولو سره د نائيجريا هېواد هم د سوډان په څېر په دوه برخو وويشي او استعماري خواکونه دهغه ځای معدني او قدرتي ذخائر د ناچيزو روپو په مقابل کې ترلاسه کړي.

د نائيجريا په شمال کې مسلمانان او ختيځ کې د عيسويانو اکثريت وګړي آباد دي. نائيجريا په افريقايي هېوادونو کې زيات تيل او نور ډېر قيمتي ذخائر لري، څرنګه چې مسلمانان په اکثريت کې دي نو يهود او نصارا د نائيجريا عيسويان دېته هڅوي چې مذهبي اختلافاتو ته په هوا ورکولو سره عيسويان ځانته د مستقل هېواد غوښتنه وکړي او په دې توګه نائيجريا هم د سوډان په څېر په دوه برخو وويشي.

هغه څه چې ډېر بوګنوونکي او دردوونکی دي هغه دا دي چې د نائيجريا عيسويان دومره له انساني چوکاټ نه وتلي دي چې د خپلو ځانو په څېر انسانان د اور په لمبو کې وريتوي او خوند ترېنه اخلي. د نائيجريا د افراطي عيسويانو دغه غير انساني کړنې څخه دا حقيقت په ګوته کېږي چې هغوی د بشريت له چوکاټ نه وتلی دي که نه نو دا څنګه کېدلې شي چې له يوه مخې بوډاګان، تورسري، ماشومان او ځوانان دی د اور په لمبو کې وسوځوي، کور، کلي، مسجدونو او مدرسو ته اور واچوي او هر مسلمان چې مخې ته راشي يا پر ګوليو غلبيل غلبيل کړي او يا هم د اور لمبو ته واچوي.

که يهود او نصارا د يو سازش له مخې هر چېرته د مسلمانانو په خلاف خپلو دغو غير انساني کړنو ته ادامه ورکوي او په پوره بې رحمی سره مسلمانان د اور په لمبو کې وريتوي نو د نړۍ په سر به انسانان څنګه د امن په فضاء کې ژوند تېروي؟ او امن به څنګه راځي؟

اسلام د امن، رواداري او برداشت دين دی او د نړۍ له ټولو انسانانو سره د امن په فضا کې د اوسېدو توصيه کوي. د اسلام په دين کې انسان لا څه چې ان هر ساه لرونکي ژوي ته اور اچول او په اور کې دهغه سوځول په مطلق ډول حرام ګرځول شوی دی، خو هغه يهود او نصارا چې خپل ځانونه له بل هر چا مهذب ګڼي او هر چېرته د بشر دوستی ترانې غږوي په عملي ډګر کې د بشريت په خلاف داسې کرغېړنې کړنې ترسره کوي چې شيطان ورته هم هک پک پاتې کېږي چې ښکاره تازه ثبوت يې د نائيجريا په ګدونا سيمه کې د هغو سلګونو مسلمانانو په اور کې د سوځولو ناوړه صحنه ده چې تصويرونه يې د انټرنټ په سايټونو کې ترسترګو کېږي او پدې خبره د حال په ژبه ګواهي ورکوي چې ددغو ناوړو کړنو مرتکبين له وحشي ځناور نه بدتر او د بشريت ستر دښمنان دي خو د حيرانتيا بله خبره داده چې تر اوسه د نائيجريا افراطي عيسويانو ددغه غير انساني او شيطاني عمل په خلاف د انساني حقوقو او بشر دوستو دعوه دارانو له خوا د مذمت او غندنې يو حرف هم له خولې نه دی ويستل شوې او داسې غلې دي لکه چې نه يې څه ليدلي او نه يې څه اورېدلي دي، که چېرته د انساني حقوقو علمبردارانو همدا انسان دوستي وي نو خدای خبر چې د انسان دوستي تر شعار لاندې به نور څومره مسلمانان د ظالمو افراطي عيسويانو دلاسه خپل ژوند د اورونو په لمبو کې له لاسه ورکوي؟!

د نړۍ په سر اوسېدونکي ټول انسانان به هله د امن په فضا کې د ژوند تېرولو له نعمت څخه برخمن شي چې پخپلو کې د يو بل د زغملو او هر چاته پخپل دين او مذهب د عمل کولو اجازه ورکړي او پر يو بل د خپلو عقيدو او مفکورو په زوره د مسلطولو کوښښ ونه کړي، خو ډېر افسوس چې افراطي يهود او نصارا پر دغه اصل عمل کولو ته چمتو نه ښکاري.

په مصر کې د اخوان المسلمين برياليتوب هیلې او اندېښنې

(د لومړۍ مخ پاتې برخه)

په مصر کې د اخوان المسلمين د ګوند بنسټ په "۱۹۳۸" ميلادي کال د شهيد حسن البنا له خوا اېښودل شوی او دهمدغه اسلامي نهضت نه په الهام اخيستنه د نړۍ په نورو اسلامي هېوادونو کې چې هغه مهال يې زياتره د انګريزي استعمار په ولکه کې وو، اسلامي نهضتونه پيل شوي، چې تر ټولو ستره موخه يې د خپلو هېوادونو خپلواکي او د اسلامي نظام د قيام په لاره کې مبارزه وه. ولې تر دې دمه په يوه اسلامي هېواد کې هم د اسلامي نهضت پلويانو ته ددې مجال ورکړل شوی نه دی، چې د خپلو رغنده اهدافو د تحقق لپاره په آزادانه ډول کار وکړای شي، دا لومړی خل دی چې د تېر کال د "عزلي پسرلي" وروسته چې عزلي مسلمانو ملتونو د خپلو سوله ييزو مظاهرو او لاريونونو په لړ کې ديکتاتوري رژيمونه راوه پرزول، د اسلامي نهضت پلويانو ته ددې مجال په لاس ورغی، چې د آزادو او خپلواکو ټاکنو له لارې د خپلو ملتونو خدمت ته راوه دانګي، او دادی تر تونس وروسته په مصر کې د اسلامي نهضت پلويانو ته ستر برۍ ور په برخه شو.

اوس دا د مصر د اخوان المسلمين د ګوند کار دی چې د مصري ولسونو خدمت وکړي او هغوی پر دې قانع کړي، چې د څه لپاره يې اتيا کاله پرله پسې زندانونه، اعدامونه، تعقيبونه، تعذيبونه او بنديزونه زغملي، دهغو موخو او اهدافو د پلي کولو لپاره له خورا تدبير او حکمت څخه کاروانخلي او د يوه با درايته او د اوضاعو او حالاتو په درک کولو سره داسې رغنده ګامونه پورته کړي چې د مصري ولس او نړۍ ټولو اندېښنو ته ځواب ووېلای شي.

بې له شکه چې د شلمې پېړۍ په دوران کې مصري مسلمانان د ديکتاتوري رژيمونو تر سختو شکنجو لاندې ژوندي پاتې شوي او د لرې مودې لپاره يې هم د الهي کلمې د لوړاوی سپېڅلی مبارزه پرې ايښې نه ده، ولې اوس د حالاتو غوښتنه بل ډول ده، چې که ښاغلی محمد مرسي د نړۍ روانو حالاتو ته په کتنه دهغو له درک او پوهېدا يو څه په دقت او احتياط سره ګامونه وانه خلي، کېدای شي، چې په مصر کې اسلامي نهضت له يوه بل ازمون سره مخ شي، ځکه دا به يواځې محمد مرسي وي چې د داسې ادارو په رأس کې واقع کېږي، چې هغه د حسني مبارک د استبدادي رژيم پاتې شوني دي، د مصر پوځ او نظامي جنرالان، پوليسي جنرالان او استخباراتي لوړ پوړي مامورين همغه کسان دي، چې تر پرونه يې د مبارک په نغوته د اسلامي نهضت پر فعالانو ځمکه سور تنور کړې وه، هغوی به خامخا د نوي جمهور رئيس پرخلاف توطئې په لار اچوي، په لوی لاس به د نوموړي د اجرأتو په مخکې خنډونه راپورته کوي، هماغوی به هڅه کوي، چې په هره طريقه کېدای شي نوی جمهور رئيس او دهغه حکومت مصريانو ته ناکام وښيي، له دې سره به بهرنی کفري توطئې هم ملګرې وي او هڅه به کېږي چې د نوي حکومت پر وړاندې ډول ډول خنډونه راولاړ کړي، نړيوال کفري تبليغات به کوښښ کوي، چې د محمد مرسي او دهغه د ملګرو د حکومت کوچنی سهوه او خطا په مطبوعاتو کې ډېره غټه راڅرګنده کړي، چې د نړۍ نور مسلمانان ترې دا اشتباه واخلي چې ګواکې اسلامي نهضت نشي کولای د مصر حکومت اداره کړي.

موږ په داسې حال کې ښاغلي محمد مرسي ته ددغه سترې بريا مبارکي وايو، ددې ترڅنګ ورته د لوی خدای جل جلاله په دربار کې دعا کوو، چې الله جل جلاله دې توفيق ورکړي، چې پر دغو ګردو ستونزو او مشکلاتو بريالی شي او هغه د مصر د پخواني جمهور رئيس "انورالسادات" په وينا د فرعونانو په خاوره کې د خدای جل جلاله د بنده ګانو په وسيله د اسلامي نظام په قيام برياله شي، داسې اسلامي نظام چې د نړۍ د انسانانو او په ځانګړي ډول د ټولو مصريانو لپاره د الهي رحمت سيوری وي او د کفري نړۍ هغه ټول پروپاګند او تبليغات درواغ ثابت کړي، چې د اسلامي نهضتونو په باب يې کوي، يو ځل بيا مصري مسلمانانو ته ددغه ستر برياليتوب دعا کوو او د الله جل جلاله له درباره غواړو چې مصري مسلمانان په دغه ستر ازمون کې برياليتوب کړي. (آمين)

جنجال نافرجام

من چنين كردم چنان تو اين وطن ويرانه شد
من چنين گفتم چنان تو اينهمه افسانه شد
شد زبون اين مردمان در منجلاب رنج و غم
خون ما بوده همه در ساغرو پيمانه شد
قوميت ها مختلف هم دشمنان رنگ رنگ
پيرو هر دشمنی قومی ازين كاشانه شد
كاردانی، كارفرمائی سزد بر عاقلان
عاقلان از ناتوانی پيرو ديوانه شد
مردم صحرا كهٔ بودش بوريائی زير پا
مالک قصر مجلل زندگی شاهانه شد
مافيای قدرت و چوكی دولت صبح و شام
دور دور شاه دوران چون شمع و پروانه شد
كارهای ما نمی يابد سرو سامانه حيف
كارسَازيها بدست مردم بيگانه شد
اختلاف و تفرقه كرده چنان ما را زبون
خارجی ها بر سر سردار ما فرزانه شد
مردمان ميزد كه لاف رادمردی و جهاد
اينزمان فرمانبر و مزدور هر بيگانه شد
در ميان ما و تو جنجال نافرجام ما
اهل ميهن رفته رفته بی سرو سامانه شد
چون به غربت رويت آری چارهٔ "يكرنگ" چيست
زانكه تو بيخانهٔ و بی خانه صاحبخانه شد

محمد الياس (يكرنگ)

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

د ښاغلي کرزي په وړاندې د کودتا اندېښنې

نیویورکر خپرونې ترديې سرلیک لاندې، چې) د امریکایي پوځیانو تر وتلو وروسته به په افغانستان کې کورنۍ جګړه پیل شي؟(یو ډېر مفصله مقاله خپره کړې ده.
د دې رپوټ په یوه برخه کې د افغان او امریکایي چارواکو په وینا راغلي دي، چې په افغانستان کې سریع تغیرات یو وار بیا دیته موقع برابرولای شي، چې په شمال کې قومي اقلیتونه بیا خپلو پخوانیو اډو ته ستانه شي.
د خپرونې په لیکنه، د دوي سره به د افغانستان له پولیسو او ملي اردو څخه هم زیات خلک ملګري شي.
د نیویورکر په وینا، بله اندیښنه دا ده، چې یو شمېر کسان ښايي ان د ښاغلي کرزي په وړاندې د کودتا هڅه وکړي او یو اصلي دلیل یې له طالبانو سره د افغان حکومت د سولې موافقه کیدلای شي.
د نیویورکر په لیکنه، که د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې موافقه وشي، نو پر اساس به یې طالبان د افغانستان حکومت او ان د دې هېواد ملي اردو ته لاره ومومي، چې دا به ښايي په افغانستان کې د یو شمېر موجودو قومي اقلیتونه لپاره د زغم وړ نه وي.
نیویورکر لیکي: په ۲۰۱۴ کال کې له افغانستان څخه د نړیوالو ځواکونو تر وتلو وروسته، د طالبانو پرمختګ هم یو خاص حالت رامنځ ته کولای شي.
امریکایي چارواکي د وسله والو طالبانو له هڅو د اندیښنې څرګندونه کوي او فکر کوي، چې پاکستاني حکومت د افغانستان په پوځ کې ریښې ځغلولې دي.
یو پخواني امریکایي چارواکي خپرونې ته ویلي: داسې ګمان کیږي، چې د افغانستان د ملي اردو سل هاوو عسکر ښايي د پاکستان د استخباراتو د ادارې او طالبانو جاسوسان وي.
دې چارواکي نیویورکر ته ویلی دي، چې سږ کال د افغانستان د پوځ په یوه روزنیزمرکز کې د ۲۲ امریکایي عسکرو قاتلین د طالبانو او پاکستان د استخباراتو له خوا ګومارل شوي وو.
پر امریکایي پوځیانو حمله کونکي ظاهرا د ملي اردو غړي وو.
نیویورکر لیکلي دي، چې د افغانستان د ملي دفاع د وزارت د یوه چارواکي د کورنی یو غړی سږ کال دې وزارت ته د چاودیدونکو واسکټونو د لیږدولو د هڅې په وخت کې ونیول شو.



د افغانستان د ځوانانو د سولې ...

شول او د داکتر عبدالله دخبرو نه کولو غوښتنه یې کوله چې تر زیاتو بحثونو وروسته ځوانان پدې سلا شول چې یواځې د صلاح الدین رباني پرانیستې وینا کافي ده او له نورو ټولو سیاسي او جهادي شخصیتونو یې دوینا کولو بخښنه وغوښته دصلاح الدین رباني تروینا وروسته جرګه په ۲۰ کاري کمیټو وویشل شوه او د هرې کمیټې لپاره رئیس، مرستیال او منشي وټاکل شو. د جرګې په دویمه ورځ دکاري کمیټو تر راپور ورکولو وروسته دجرګې دریس، نایب اومنشي لپاره ټاکنې ترسره شوې چې دټاکنو په پایله کې دحزب اسلامي د ځوانانو غړی سنګر امیرزاده د رایو په اکثریت د رئیس په توګه اوعبیدالله لودین د اول مرستیال په توګه وټاکل شو.
غونډه به نن د ولمسشر کرزي او یا یې د کوم مرستیال په اختتامیه وینا پای ته ورسیږي.

افغان حکومت په ایران کې ...

حکومت په وړاندې چوپ پاتې شوی دی:
(له بده مرغه په تیرو لسو یولسو کلونو کې چې ایرانیانو هر کار کړی، د افغانستان دولت ورته چوپ پاتې شوی دی، خو په مقابل کې یې لکه چې تاسو خبر یاستی، کله چې هم یوه مسئله پیښه شوې په تهران کې یې د افغانستان شارژدافیر یا سفیر احضار کړی او د بهرنیو چارو وزارت یې ترینه پوښتنې کړي، له ګوابنونو ډکې خبرې یې ورته کړي او ورته ویلي یې دي، چې دا خبرې مو دولت ته ور ورسوئ.)
په فارس ولایت کې د نویو بندیزونو اعلان د دې ولایت د چارواکو له خوا په رسنیو کې خپور شوی.
داسې امر شوی، چې په غیرقانوني بهرنیانو باندې دې خوراکي مواد نه خرڅیږي او نه دې هم له عامه ترانسپورټ نه د ګټې اخیستنې اجازه ورکول کیږي.
له ډیرو هڅو سره سره ونه توانیدلو، چې د افغان کډوالو د تازه ستونزو په اړه د افغانستان د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت د چارواکو نظر واخلو.
بل خوا د بهرنیو چارو د وزارت یوه ویاند فرامرز تمنا هم په یوه تیلیفوني تماس کې وویل، چې په فارس کې د افغان کډوالو د ستونزو په اړه رسمي راپور نه دی ورسیدلی، ځکه خو یې په اړه څه نشي ویلای.
نوموړي تر دې مخکې په یوه خبري کنفرانس کې ویلي و، چې د ایران په یزد ښار کې افغان کډوالو ته د ورپیښو ستونزو په اړه جدي اقدامات شوي او دغه ستونزې هوارې شوي.
تیره اونی راپورونه ورکړل شول، چې په یزد ښار کې د یوې نجلی له وژل کیدو وروسته یو شمېر ایرانیانو د افغان کډوالو کورونه سوځولي او هغوي یې وهلي دي، فرامرز تمنا په دې اړه وویل:
"لومړې خو دا، چې تر اوسه پورې هیڅ داسې سند نشته، هغه کس، چې دغه ځوانه ایراني انجلی یې وژلې افغان وکړې دې، خو فرض کړو، چې وژونکې یو افغان دې، بیا هم جرم یو انفرادي عمل دې او د وژونکي پرته نور څوک باید و نه ځورولې شي.
په دې برخه کې حقوقي مسایل باید په پام کې نیول شوې وای، خو کوم بحران، چې رامنځ ته شو او پکې افغانان وځورولې شول، د ایران د خلکو لپاره مناسب نه وو."
د راپورونو له مخې په دې وروستیو کې د ایران په ځینو سیمو کې افغان کډوالو له بیلابیلو ستونزو سره مخ شوي.
څه موده مخکې د اصفهان پولیسو د صفه په نوم یوه پارک ته د افغانانو پر ننوتو بندیز ولګاوه.
د راپورونو له مخې په مازندران ولایت کې هم د افغان کډوالو پر اوسیدو ځینې بندیزونه لګول شول.
د دغو بندیزونو په افغانستان کې د ایران پر ضد د یو شمیر مدني ټولنو او عامو خلکو اعتراضونه هم راپارولې دي.

نگرانی ها در مورد استخراج ...

ادامه پیدا کنند، کار استخراج معادن کشور به خصوص مس عینک با مشکلات مواجه خواهد شد.
"دشمنان بدون شک تلاش های خود را انجام می دهند، تا سبب مختل ساختن پروژه ها شده و به آن آسیب برسانند. و هوشدار های نیز از گذشته وجود داشته است هر گاه همین تهدید ها ادامه پیدا بکند، سبب مختل شدن پروژه ها خواهد شد."
کار استخراج پروژه مس عینک در ولایت لوگر حدود چهار سال قبل به کمپنی چینایی واگذار شده و کار این پروژه رسماً آغاز گردید. به گفته مقام های وزارت معادن افغانستان معدن مس عینک بزرگترین معدن افغانستان می باشد و با آغاز کار این پروژه سالانه چندین میلیون دالر به عواید دولت می رسد.
در همین حال مقام های وزارت معادن کشور می گویند که در حال حاضر کار استخراج این معدن بزرگ با مشکلات امنیتی رو برو شده است. سخنگوی این وزارت می گوید که کشور های منطقه در نا امن ساختن پروژه استخراج معادن کشور نقش دارند.
همچنان مقام های این وزارت می گویند که معادن نفت در شمال کشور با مشکلات امنیتی مشابه روبرو اند. در عین حال وزارت امور داخله افغانستان موجودیت مشکلات امنی و دست درازی کشور های منطقه را در کار استخراج معادن کشور را می پذیرد.
صدیق صدیقی سخنگوی این وزارت در صبحت با رادیو آزادی گفت که هیات را به هدف بررسی وضعیت امنیتی معدن مس عینک ولایت لوگر فرستاده اند:
"محافظت از معادن و تامین امنیت معادن در صدر برنامه های پولیس ملی افغانستان قرار دارد به اساس نگرانی های که در جلسه شورای امنیت ملی از سوی مقامات وزارت معدن مطرح گردید هیات را به تازه گی به معدن مس و عینک فرستاده ایم تا مطمین شده و تدابیر که نیاز است پولیس آنرا عملی خواهد کرد و ما برای وزارت معادن نیز اطمینان داده ایم که حفاظت از معادن برای ما یک مساله مهم است."

د امریکا دفاع وزارت غواړي ...

د بوینګ د کمپنی له لوري جوړېږي. دغه راز به له عراق څخه د بې پیلوټه الوتکو شپږ مرکزونه افغانستان ته انتقال شي او د نیوي سیل د خاص ځواک مخکني تمځایونه (ستېشنونه) به له څلورو اتو ته زیات کړای شي.
کانګریس ته د اضافي بودجې په غوښتلیک کې ویل شوي چې کشافي یا څارګرې بې پیلوټې الوتکې د افغان پولیسو، سیمه ییزو پولیسو او د کلیو د ثبات لپاره په داسې حال کې حیاتي ارزښت لري چې امریکا غواړي افغانان د یاغیانو په وړاندې د ځان دفاع په خپله وکړای شي.
امریکایي رسنیو د امریکا د دفاع وزیر لیون پنیتا له قوله ویل شوي چې په کلیو کې د طالبانو په وړاندې د سیمه ییزو پولیسو له لوري د امنیت په برخه کې پرمختګ شوی خو یوشمېر نورو چارواکو د حامد کرزي تر مشرۍ لاندې د ثبات پر تلپاتې توب شک څرګند کړی دی.
د افغانستان د نوي دفاع وزارت لپاره د پینټاګون په څېر د ۹۲ ملیون ډالرو او د کورنیو چارو وزارت لپاره په نژدې پنځوس ملیون ډالره د نویو ودانیو د جوړولو لپاره د امریکا پلانونه او له افغانستان سره د امنیتي تړون په اړه خبرې ښيي چې امریکا حاضره نه ده چې طالبانو او د هغو القاعده ملګرو ته افغانستان پرېږدي څو بیا له دې هیواده د لوېدیځ او نورو هیوادونو پرضد له دې هیواده د اډې په توګه کار واخلي.
افغانستان ته د زیاتو بې پیلوټو الوتکو له انتقاله داسې ښکاري چې امریکا په افغانستان کې د خپلو ځواکونو شمېر کموي او غواړي چې د هوا له لارې د افغان ځواکونو ملاتړ زیات کړي.

میدان وردک:

طرف های درگیر به جان و مال مردم توجه نمی کنند

کابل، رسانه ها:
باشنده گان ولسوالی های چک و جغتو ولایت میدان وردک نیروهای امنیتی افغان و طالبان مسلح را متهم به آزار و اذیت مردم این ولایت می کنند. این باشنده گان به روز سه شنبه در صحبت با رادیو آزادی گفته اند که از یک طرف نیروهای امنیتی افغان آنان را به عنوان طالب می گیرند و از سوی دیگر طالبان آنها را به نام همکار حکومت آزار می دهند.
به گفته آنها طالبان از خانه های مردم به عنوان سنگر استفاده می کنند و بر نیروهای امنیتی افغان فیر می کنند و نیروهای امنیتی افغان نیز طالبان را هدف قرار می دهند. آنان می گویند که در نتیجه درگیری میان دوطرف به مردم عام خسارات مالی و جانی به بار می آید.
«از هر دو طرف مردم به فغان آمده اند، خصوصاً از ارگان های دولتی، آنجا می روند و مردم آزاری می کنند، ناحق مردم را گرفتار می کنند، چون آنجا اطراف است فکر می کنند که تمام مردم مسلح اند وفکر میکنند که تمام حملات را آنها بالای شان انجام میدهند.»
"یگانه مشکل که آنجا وجود دارد، این است که بازار ولسوالی چک نزدیک تعمیر ولسوالی قرار دارد. طوری که شما در جریان هستید امسال نسبت به سال های گذشته وضعیت امنیتی خیلی خراب شده، بازار اصلی ولسوالی تحت حاکمیت دولت قرار دارد که در پنجاه متری ولسوالی قرار دارد. آنجا هیچ کس هم رفته نمی تواند، مشکل دیگر این است که وقتی بالای بازار جنگ آغاز می شود، در آن وقت از سوی ولسوالی به سوی قریه ها مرمی فیر می شود. افراد که در روی بازار هستند از نزد شان تلفون های شان گرفته می شود که گویا آنها با طالبان ارتباط دارند و گفته می شود که شما برای طالب ها تلفون کرده بودید."
گزارشهای به نشررسیده است که طالبان مسلح به روزدوشنبه مردم را اجازه گشت و گذار در بازار ولسوالی جغتو نداده اند. همچنان گفته شده است که طالبان برای مردم محل گفته اند که دکانهای شان را تا روز شنبه آینده ببندند و اموال شان را به قریه انتقال بدهند.
در عین حال باشنده گان محل می گویند که حکومت رفت آمد موتر سایکل ها، موتر های خورد مثل سراچه و کرولا را ممنوع قرار داده اند. مسوولان میدان وردک این موضوع را رد کرده اند. شاهد شاهد سخنگوی والی این ولایت به رادیو آزادی گفت، ممنوع قرار دادن رفت آمد موتر ها در ولسوالی های این ولایت را یک شایعه خواند و گفت:
"نیروهای افغان با مردم تفاهم دارند، و آنها به خاطر امنیت مردم وظیفه دارند نه بخاطر آزار و اذیت مردم. برای ما هیچ کدام راپوری نرسیده با مقام ولایت با روبرو شدن به یک مشکل عادی عکس العمل نشان می دهد. این همه جنگ تبلیغاتی مخالفین است که باشنده گان اینجا آزار داده می شوند، همین مخالفین دولت هستند که از خانه های مردم بالای پولیس فیر می کنند."
آقای شاهد گفت که پس از قیام مردم در ولسوالی اندر غزنی شماری از طالبان به ولسوالی های ولایت میدان وردک آمده اند و این مناطق باعث ایجاد مشکلات برای مردم شده اند. اما طالب های مسلح تا اکنون در این مورد چیزی نگفته اند.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت ارنیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خبرونکې اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي ځانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۷۳۲
مسؤول مدیر ۰۷۷۷۶۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com